## د اخلاقو ضعف د ایمان ضعف دی

جناب نبی کریم ص په بیلابیلو ځایونو کی په واضح تو گه فرمایلی دی چی قوی ایمان د ښو او نیکو اخلاقو سبب کیږی او اخلاقی کمزوری د ایمان کمزوری گڼل کیږی. **د بې حیا او بې عزته انسان په هکله چی د گناه په کولو سره د هیڅ شرم احساس نه کوی فرمایی:**

**۱- الحیا والایمان قرناء جمیعا فاذا رفع احدهما رفع الآخر** (المستدرک للحاکم عن انس رض)

**ژباړه :** حیا او ایمان یو دبل سره تړلی او نژدې رابطه لری که یو یې د منځه ولاړ سی او د انسان څخه لیری سی دوهم یې پخپله د منځه ځی.

او هغه څوک چی گاونډیانو ته تکلیف رسوی او بده رویه ورسره کوی پدې هکله :

**۲- عن ابی شریح آن انبی صلی الله علیه وسلم قال ولله لا یؤمن ولله لا یؤمن ولله لا یؤمن قیل و من یا رسول الله قال الذی لا یآمن جاره بوایقه » (صحیح البخاری)**

**ژباړه :** د ابو شریح څخه روایت دې چی رسول الله ص وفرمایل: قسم په الله ج ایمان یې ندې راوړی ، قسم په الله ج ایمان یې ندی راوړې ، قسم په الله ج ایمان یې ندی راوړی ! پوښتنه ورڅخه وسول چی چا یا رسول الله ص ؟ وې فرمایل: هغه څوک چی گاونډې(همسایه) یې د شر او بدې څخه په امان نه وی.

د بد و او بې ځایه خبرو په هکله :

**۳- « من کان یؤمن بالله والیوم الآخرة فلیقل خیراً أو لیصمت » (صحیح البخاری عن ابی هریرة رض)**

**ژباړه :** څوک چی په الله ج او د آخرت په ورځ ایمان لری نو باید چی ښې خبری وکړی او یا هم چپ و اوسی.

یو شمیر داسی خلک هم سته چی فرضی عبادات ډیر په بې غورې سره ادا کوی ، نور ډیر عبادتونه کوی او د هیڅ ډول ځان ښودنی څخه په دې هکله مخ نه اړوی خو په عین وخت کی داسی ویناوی او اعمال ورڅخه صادریږی چی د اخلاقو او اسلامی کرامت او حقیقی ایمان سره ډیر وا ټن لری دا کسان باید پدې پوه سی چی داسی ظاهری او بې روحه عبادتونه په اسلام کی هیڅ ارزښت نلری او رسول الله ص خپل امت ته خبرداری ورکوی چی دداسی انسانانو د شر څخه خپل ځان وساتی.

**۴- « عن ابی هریرة قال قال رجل یا رسول الله اِن فلانة یذکر من کثرة صلاتها صیامها و صدقتها غیر اَنها تؤذی جیرانها بلسانها قال هی فی النار قال یا رسول الله فإن فُلانَةَ یُذکَرُ مِن قِلَّةِ صِیامِهَا و صدقتِها و إنَّها تَصَدَّقُ بالأثوارِ مِنَ الاَقِطِ و لا تؤذی جیرانَهَا بلِسانِها قال هی فی الجنَّةِ » (مسند احمد)**

Ketabton.com

**ژباړه :** د ابو هریره رض څخه روایت دې چی یو سړی وویل: یا رسول الله ص وایی چی فلانکې ښځه ډیر لمونځونه کوی او روژې نیسی او ډیر خیراتونه کوی خو گاونډیانو ته په ژبه سره تکلیف رسوی وې فرمایل چی دا په دوږخ کی ده ، هغه سړی بیا وویل : وایی چی هغه بله فلانی ښځه لږ لمونځونه کوی او لږ روژې نیسی او د پنیر ټوټی خیراتوی او خپل گاونډیانو(همسایه گانو) ته تکلیف نه رسوی وې فرمایل چی دا په جنت کی ده.

یوه ورځ رسول الله ص د خپلو اصحابو څخه پوښتنه وکړل چی :

**۵- « اَتَدرُونَ منَ المفلِسُ ؟ قالو المُفلسُ فینَا من لا دِرهمَ له و لا مَتاعَ . فقال المفلس من اُمتی مَن یاتی بصلاةِ و زکاة و صیاما و یاتی و قد شَتَمَ هذا و قذف هذا و آکلَ مالَ هذا و سَفَکَ دمَ هذا و ضربَ هذا ، فَیُعطِی هذا مِن حسناتِهِ و هذا من حسناته ، فاِن فَنِیَت حسناته قبل آیقضَی ما علیهِ اَخِذَ من خطایاهم فطرحَت علیه ثم طُرِحَ فی النار »** (صحیح المسلم عن ابی هریرة رض)

---

**د اسلامی اخلاقو لړی**

**ترتیب او ژباړه: ا.م.ف**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه :** رسول الله ص پوښتنه وکړل آیا پوهیږئ چی مفلس څوک دئ ؟ ورته وویل سول چی زموږ په منځ کی مفلس هغه څوک دئ چی پیسی او مال ونلری . ده مبارک وفرمایل : زما د امت مفلس هغه څوک دئ چی کله په آخرت کی راسی او د ځان سره یې لمونځ ، زکات او روژه راوړې وی خو په عین وخت کی یې یو چاته ښکنځل (بد ویلی وی ) کړی وی ، او په بل پسی یې تهمت ویلی وی او د بل یوه مال یې خوړلی وی ، او د بل چا وینه یې توی کړې وی ، او بل یو یې وهلی وې نو دده د نیکیو څخه اخیستل کیږی او هغه و هغه ته ورکول کیږی او که نېکی یی مخکی د پوره کېدلو د هغه څه څخه چی پرده دی ( د بل حق) پای ته ورسیږی نو د هغو خلکو(پوروړو) د گناوو څخه اخیستل کیږی او پر ده اچول کیږی وروسته نموړی سړی دو ږغ ته اچول کیږی.

تاسی هغه تقوی داره او دینداره پر دې قیاس کړی چی ځینی عبادتونه سرته رسوی خو بیا هم بد خویه ، تریو ، دښمنی کوونکی او شریر سړی پاته کیږی دا سړی څنگه تقوی داره بلل کېداې سی ؟؟

او د ښو او بدو اخلاقو په اړه یې فرمایلی دی :

**۶- « الخلقُ الحسن يُذيبُ الخطايا كَمَا يُذِيبُ الماءُ الجَليد ، الخلق السوِ يفسِدُ العملَ كمَا يفسدُ الخِل العسلّ »** (سنن بیهقی و طبرانی عن ابن عباس رض ) .

**ژباړه :** نېک اخلاق گناوی داسی ویلی کوی لکه اوبه چی ژلی ویلی کوی ، او بد خوی عمل داسی فاسد او خرابو لکه سرکه چی عسل (شات) خرابوی.

د پورتنی عزتمند ارشاد څخه ښکاری چی د انسان په نفس کی رذایل په ځای نیولو سره وده کوی د خیر او اصلاح ځاې نیسی او تول ارزښتونه خپل تر پوښښ لاندی راولی نو په دې وخت کی لکه انسان چی جامې د خپل بدن څخه لیری کړی او لڅ پاته سی پدې توگه د دین څخه خارجیږی او د دین هیڅ اثر یې په بدن کی نه پاته کیږی نو په دې صورت کی دداسی شخص له خوا څخه د ایمان دعوه بېله ښکاره درواغو څخه بل څه نده.

د ایمان او اخلاقو د رابطې په اړوند رسول الله ص فرمایی:

**۷- « ثلاث من كُنَّ فيه فهوَ مُنافقٌ و اِن صام و صلى و حجِّ و اِعتمرَ و قال اِنّى مُسلِم اِذا حدث كَذَّبَ و اِذا وعَدَ اَخلفَ و اذا اؤتُمِنَ خَانَ»** (صحیح مسلم)

**ژباړه :** دری خویونه دی چی که په یو چاکی موجود وی هغه شخص منافق دې که څه هم روژه ونیسی او لمونځ وکړی او حج او عمره ادا کړی او ووایی چی زه مسلمان یم ، یو داچی د خبرو کولو په وخت کی درواغ وایی او کله چی وعده وکړی وعده خلافی کوی او کله چی امانت ورته وسپارل سی خیانت پکښی کوی.

همداغه رنگه فرمایی:

**۸- « عن عبد الله بى عمرو[رض] عن النبى[ص] قال : اَربعُ من كان فيهِ كانَ مُنَافقاً خالصاً و من كان فيهِ خِصلة منهُنَّ كانت فيهِ خصلةٌ من النِّفاقِ حتّى يَدعُها ، اِذا اؤتمن خان و اِذا حدث كذبَ وَ اذا عاهدَ غدَرَ و اِذا خاصَمَ فجَرَ»** (صحیح البخاری )

**ژباړه :** د عبد الله بن عمرو [رض] څخه روایت دې چی نبی کریم ص وفرمایل : څلور خویونه دی که په یو چا کی جمع سول هغه سړې خالص منافق دې او که یو خوی (خصلت) یې پکښی وی دا د نفاق (منافق) خاصیت دې تر څو چی پرې اینبی نه وی : کله چی امانت ورته وسپارل سی خیانت پکښی کوی او کله چی خبری کوی درواغ وایی او کله چی وعده وکړی په هغه کی غدر(خیانت) کوی ، او کله چی د چا سره جنگ کوی ښکنځل کوی.

---

**د اسلامی اخلاقو لړی**

**ترتیب او ژباړه: ا.م.ف**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نیک اخلاق او ددرجو لوړوالی او فضیلت

د الهی لارښوونو او نبوی ارشاداتو څخه دا په ښکاره توگه څرگندیږی چی اسلام غواړی انسان په اخلاقی فضایلو او آدابو مزین وی او نورو ته یې هم وښیې. همداغه رنگه اخلاق د نفلی او نا اړین موضوعاتو څخه نه شمېرل کیږی بلکه نیک او حمیده اخلاق د اړینو او لازمو اصولو له جملې څخه دی چی د ژوند ارزښت لری او د الله ج خوښ دی او د نیکو اخلاقو خاوندانو ته یې لوړه درجه او ستر اعتبار ورکړی دې.

د نیکو اخلاقو پر لور

**١- « عَن اسَامَه بن شَریک** رض **قَال : کنَّا جُلوساً عِندَالنَّبی** ص **کَانّما عَلی رُووسِنا الطیرُ ما یتَکلم ، اِذجاءَ ُه اُناسٌ فقالو : من احَبُ عِبَادُاللهِ الی الله ؟ قال : احسنُهُم اخلاقاً »** (المعجم للطبرانی)

**ژباړه :** د اسامه بن شریک رض څخه روایت دې چی وې ویل : موږ به د رسول الله ص په حضور کی داسی ناست وو لکه زموږ پر سرونو چی مرغه ناست وی او زموږ څخه یوه هم خبری نه کولې ، نابېره یو شمېر خلک راغلل او پوښتنه یې وکړل چی د الله ج په وړاندی نزدې او ډېر خوښ بنده څوک دې ؟ وې فرمایل په اخلاقو کی تر ټولو ښه یې .

**په یوه بل روایت کی :**

**٢- ما خیرُ مَا اُعطیَ الاِنسَانُ ؟ قال : خلقٌ حُسنٌ »** (صحیح ابن ماجه)

**ژباړه:** پوښتنه ورڅخه وسول تر ټولو غوره شی چی انسان ته ورکول سوی دی څشی دې ؟ وې فرمایل : نېک خوی(اخلاق) .

د بد ویلو په اړه

**٣- « ان الفحشَ والتَّفَحُشَ لیسَا من الاسلام فی شی ءٍ و اِنَّ احسنُ النَّاسُ اِسلاماً اَحسنُهُم خلقاً »** (سنن ترمذی)

**ژباړه :** په بد ویلو عادت او بد ویوونکې په اسلام کی هیڅ حصه نلری او د اسلام له نظره تر ټولو ښه انسان هغه څوک دې چی په اخلاقو کی بهتر او غوره وی .

**او په یوه بل روایت کی :**

٤- « **سُئِلَ رسولُ الله** ص **: ایُ المومنین اکمل ایماناً قال : اَحسَنُهُم اخلاقاً »** (المعجم للطبرانی ، عن عمیر بن قتاده ) .

**ژباړه :** د جناب نبی کریم ص څخه پوښتنه وسول چی د مومنانو د ډلی څخه کوم یو یې د کامل ایمان لرونکې دې ؟ وې فرمایل هغه څوک چی غوره او بهترین اخلاق لری.

**٥- « عن عبد الله بن عمرو** رض **قال : سمعتُ رسول الله ص یقول : اَلا اخبَرُکم بِاَحسبُکم اِلیِّ و اقرَ بُکُم مِنِّی مجلساً یومَ القیامَةِ؟ اعادَهَا مرَّتینِ او ثلاثا ـــ قالو بلی یا رسولَ الله . قال : احسنکم اخلاقاً »** (مسند احمد)

**ژباړه :** د عبدالله بن عمرو رض څخه روایت دې چی وې ویل: د رسول الله ص څخه می واورېدل چی ویی فرمایل آیا تر ټولو ماته دگران او محبوب شخص او د قیامت په ورځ تاسی ته تر ټولو د نزدې مجلس کوونکی څخه خبر در نکړم؟ دوه یا درې واره یې دا پوښتنه تکرار کړل ، ورته وویل سول چی یا رسول الله بلی ، وې فرمایل : په تاسو کی تر ټولو د غوره او بهترین اخلاقو درلودونکې.

---

**د اسلامی اخلاقو لړی**

**ترتیب او ژباړه: ا.م.ف**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**او همداغه رنګه فرمايی :**

**۶- « ما من شیءٍ اثقل فی المیزان العبد المؤمن یوم القیامة من خلقٍ حسَنٍ ، ان الله یکره الفاحش البَذِی و ان صاحبَ حسن الخلق لِیَبلُغَ درجَةٍ صاحبَ الصوم والصلاة »** (مسند احمد عن ابی دردا رض)

**ژباړه :** رسول الله ص وفرمايل : د قيامت په ورځ د مومن بنده د اعمالو په ترازو کی تر اخلاقو دروند شی نسته ، او الله ج بد ژبی ، بد ويونکی نه خوښوی او بيله شکه د نيکو اخلاقو خاوند د خپلو نيکو اخلاقو په وسيله د لمونځ کوونکی او روژه نيوونکی شخص مرتبی ته رسيږی.

**۷- «عن اَنس رض قال : قال رسول الله ص : اِنَ العبدَ لیَبلغَ بحسن خُلقه عظیم درجات الآخرةِ و اَشرفَ المنازل وَ اِنَّهُ لَضَعِیفُ العِبَادَةِ و اِنَّهُ لِیَبلُغَ بسوءِ خُلقِهِ اسفَلَ دَرَجَةً فی جهنم »** (المعجم للطبرانی)

**ژباړه:** د انس رض څخه روايت دې چی رسول الله ص وفرمايل : يقيناً مومن بنده د خپلو نيکو اخلاقو په وسيله د آخرت لوړو درجو او بهترينو منازلو ته رسيږی او بېله شکه مومن بنده د خپلو بدو اخلاقو په وسيله د جهنم تر ټولو کښته درجی ته رسيږی.

**۸- « عن عایشة** رض **قالت : سمعتُ رسول الله ص یقول : اِنّ المومنَ لِیُدرِکُ بحُسنِ خلقهِ دَرَجّةَ الصاءِم القاءِم»**

**ژباړه :** د عايشی رض څخه روايت دې چی وې ويل د رسول الله ص څخه می واورېدل چی ويل يې : بېشکه مومن د خپلو نيکو اخلاقو په واسطه د روژه نيوونکی او لمونځ کوونکی شخص درجې ته رسيږی.

**او په بل روايت کی :**

**۹- « اِنَّ المومنَ لِیُدرِکَ بِحُسنِ خُلقِهِ دَرَجَاتِ القاءِمَ الّیلِ وَ صاءِمَ النَّهَارِ»** (سنن ابی داود)

**ژباړه :** د عايشی رض څخه روايت دې چی وې ويل: د رسول الله ص څخه می واورېدل چی وی فرمايل: بېشکه چی مومن د خپلو نيکو اخلاقو په واسطه د شپې لمونځ کوونکی او د ورځی روژه نيوونکی درجه لاسته راوړی.

**۱۰- « قال ابوذَر اِنَّ رسول الله ص قال قد افلح من اَخلص قلبهُ لِلایمان و جَعَلَ قَلبَهُ سَلیماً وَ لِسانَه صادقاً وَ نفسَهُ مُطمَءِنَةُ وَ خَلیقَتَهُ مُستَقِیمَةً »** (مسند احمد)

**ژباړه :** ابوذر رض فرمايی چی رسول الله ص وفرمايل : بېشکه هغه څوک بريالی او کاميابه سو چی زړه يی ايمان ته خالص کړی وی او زړه د امراضو(باطنی امراضو) څخه وساتی ، خپله ژبه يې ريشتيا ويونکې وګرځول او خپل نفس يې مطمئن کړ او خپل اخلاق يې سم کړل.

**۱۱- « عن عبدالله بن عمرو رض انَّ رسول الله ص لم یَکُن فاحشاً وَ لَا مُتَفحَشاً و کانَ یقولُ : خِیَارُکم اَحَاسِنُکُم اخلاقاً »** (صحیح البخاری)

**ژباړه:** د عبدالله بن عمرو رض څخه روايت دې چی وې ويل : رسول الله ص نه د عادت له مخی بد ژبی وو او نه يی هم (د قهر او غضب په وخت کی) نفس بد ويلو ته مجبوره کاوه او هميشه به يې فرمايل: په تاسی کی غوره هغه کسان دی چی غوره اخلاق ولری.

---

**د اسلامی اخلاقو لړی**

**ترتیب او ژباړه: ا.م.ف**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۲- «عن انس رض خُدِمتُ رسول الله ص عشر سنین ، والله ما قال لی أفٍ قطُ وَ لَا قَالَ لِشَیءِ لِمَ فَعَلتَ کَذَا وَ هَلَا فَعَلتَ کَذَا؟»** (صحیح البخاری)

**ژباړه:** د انس رض څخه روایت دې چې وې فرمایل: د لسو کلونو لپاره می د رسول الله ص خدمت وکړ، قسم په الله ج هیڅکله یی اف او بده خبره نده راته کړې او هیڅکله یې ندی راته ویلی چی ولی دی داسی وکړل اویا ولی دی هغسی ونکړل؟

**همداغه** رنګه انس رض روایت کوی چی : یوې سپین سری مینځی یې لاس نیولی وو او هر ځای چی یی غوښتل دوی یې د ځان سره بیول او کله چی د سړی سره به مخ کېدی د هغه سره بې سترې مسی( لاس یې ورکاوه یا یې مصافحه ورسره کول) کول او تر هغه وخته یې خپل لاس نه ورڅخه ایسته کوی تر څو چی به هغه شخص خپل لاس نه وو ورڅخه ایسته کړی او تر هغه وخته یې مخ نه ورڅخه اړوی تر څو چی به هغه بل سړی مخ نه وای ورڅخه اړولی، او هیڅکله یې په ناستو کسانو(ملګرو) کی خپل پښې نه غزولې (یعنی د خپل د مجلس د خلکو او ملګرو احترام یې کاوه او په وړاندی یې تکبر نه کاوه).

**۱۳- « عن عایشة رضی الله عنها : قالت : ما خُیِرَ رسول الله ص بین الأمرین أِلا أختَارَ أیسَرَهُمَا ما لم یکن أِثماً فأِن کانَ أِثماً کان أَبعَدُالنَّاسَ عنهُ ، وَ ما انتَقَمَ رَسُول الله ص لِنَفسِهِ فی شئٍ قَط ، أِلا أَن تُنتَهَکَ حُرمَةَ اللهِ فَیَنتَقِمُ ، وَ ما ضَرَبَ رسول الله شیئاً قط بِیَدِهِ الا أِمرَأَةُ وَ لَا خَادِماً أِلَّا ان یُجاهِدَ فی سبیل الله تعالیٰ »** (صحیح المسلم)

**ژباړه:** د عایشی رض څخه روایت دې چی ویې فرمایل : رسول الله ص هیڅکله د دوو کارو سره ندی مخ سوی مګر داچی آسانه یې پکښی انتخاب او غوره کړې دی خو په هغه صورت کی چی په هغه کار کی به ګناه نه وه که به ګناه پکښې وای د ټولو خلکو په نسبت یې د هغه څخه لیری والی غوره کاوه. او رسول الله ص هیڅ کله د خپل ځان په خاطر د چا څخه انتقام ندې اخیستی، مګر په هغه صورت کی یی مجرمانو ته سزا ورکول او انتقام یی اخیستی چی د الله ج محرمات به پاته کېدل ، او رسول الله ص هیڅ څوک په خپل لاس ندی وهلی نه ښځه او نه هم خادم مګر داچی د الله ج په لاره کی به یې جهاد کاوه.

**۱۴- «عن عایشة رض قالت : قال رسول الله ص أِنَ الله رفیقٌ یُحِبُ الرِفقَ و یُعطی علی الرِّفق مَا لَا یُعطی علی العُنفِ ، وَ مَا لا یُعطی علی سِواه»**

**و فی روایة**

**أَنَّ الرِّفقَ لَا یَکُونُ فِی شَیَئٍ أِلا زَانهُ و لا ینزعُ من شی أِلا شَانهُ**

**ژباړه:** د عایشې رض څخه روایت دې چی رسول الله ص وفرمایل : الله ج مهربانه دی او په کارو کی نرمی خوښوی ، او هغه څه چی په نرمی ورکوی په سختی او نورو عاداتو کی یې نه ورکوی. او په یوه **بل روایت کی فرمایی:**

نرمی په هیڅ کار کی نه وی مګر داچی هغه ښایسته کوی او د هیڅ شی څخه نه ایستل کیږی مګر داچی هغه شی خرابوی (په هر کار کی چی نرمی وی هغه ښایسته کوی او په هر کار کی چی نرمی نه وی هغه خراب او بې خونده کوی)

**۱۵- « عن جریر رض أَنَّ رسول الله ص قال : أِنَّ الله لِیُعطِی علی الرِّفقِ ما لا یُعطی علی الخَرقِ . وَ أِذَا اَحَبُ اللهُ عبداً أَعطاه الرفقَ وَ مَا مِن اهل بیتٍ یحرمُونَ الرِّفقَ أِلا یُحرِمونَ الخیرَ کُلِّه»** (المعجم للطبرانی)

**ژباړه:** د جریر رض څخه روایت دې : رسول الله ص وفرمایل : الله ج هغه څه چی په نرمی کی ورکوی په سختی او حماقت کی یې نه ورکوی ، او که الله ج د یو بنده سره محبت کوی او خوښ یې وی نو نرمی ورته ورکوی ، او هره کورنی چی د نرمی څخه محرومه وی د ټولو خیرونو څخه محرومه وی.

---

**د اسلامی اخلاقو لړی**

**ترتیب او ژباړه: ا.م.ف**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**